د افغانستـــان اسـلامي امارت
د ارشـــاد ، حج او اوقافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
د ارشـــاد او دعوت آمريت
د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

دجمعی ورځ ، دخطبې لاربنود مؤرخ ۱۴۴۳/۱۲/۲۳هجری قمری مطابق :۱۴۰۱/۴/ ۳۱هجری شمسی

# د اسلامي تعليماتو په رڼاکې د اولادونو روزنه

الحمد لله الذي أنعم علينا بنعمة الأولاد، وأمرنا أن نبصِّرهم طريق السعادة والرشاد، والصلاة والسلام على سيدنا محمد خير العباد، وعلى آله وصحبه الى يوم التناد، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ} التحريم :(۶)

وقال رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -:( إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ إِلاَّ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ). رواه مسلم

**درنو حاضرينو!**

يقيناً اولاد يوه الهي ډالۍ ده او د ژوندانه ښايست دی او د انسان د زړه ميوه ده او د انسان د سترګو يخوالی دی. او د اولاد نعمت هغه وخت بشپړيږي چې د دوی په روزنه او تعليم کې په ښه وجه اقدام وشي او نيك او صالح اولاد ټولنې ته وړاندې شي او ټول د دردناك عذاب څخه وژغورل شي.

اولاد د مور او پلار په غاړه کې امانت دی او دمور او پلار څخه به ددې امانت په اړه پوښتنه کيږي.

د اولاد په روزنه او تربيت کې کوتاهي نه جبرانيدونکې خطا ده. کور د اولاد لپاره لومړۍ مدرسه ده او داساس هغه لومړنۍ خښته ده چې ټولنه ورباندې بنا ده. که چيرې ماشوم ته سمه او شرعي روزنه ورکړل شوه ، ټولنې ته به صالح او روغ انسان تقديم شي خو که چيرې دماشوم روزنې ته پاملرنه ونه شي ، ټولنې ته به مريض او نيم ګړی انسان وړاندې شي. دصبا ورځې ټولنه د نن ورځ ماشومانو څخه تشکيليږي.

د ټولنې او جامعې نيکبختي او بدبختي د اولاد په تربيه پورې تړل ده؛ ځکه د نن ورځ ماشومان دصبا ورځې لويان دي. د نيکې او په شرعي حدودو ولاړې کورنۍ څخه ټولنې ته مهربانه، تقوا داره او روغ رهبران او اعضاء وړاندې کيږي.

د اسلام په مقدس دين کې د اولاد سالمه روزنه ځکه مهمه ده چې داسلامي امت اينده ورپورې تړلې ده.

د اولاد په روزنه کې تقصير په ټولنه کې د ډول ډول اخلاقي پستيو او ناوړه کارونو د راټوکيدو باعث ګرځي چې اصلاح يې خورا مشکل کاردی. حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله د اولاد دتربيې په اړه داسې ليکلي دي: (اعلم أن الطريق في رياضة الصبيان من أهم الأمور وأوكدها والصبيان أمانة عند والديه وقلبه الطاهر جوهرة نفيسة ساذجة خالية عن كل نقش وصورة وهو قابل لكل ما نقش ومائل إلى كل ما يمال به إليه فإن عود الخير وعلمه نشأ عليه وسعد في الدنيا والآخرة وشاركه في ثوابه أبوه وكل معلم له ومؤدب وإن عود الشر وأهمل إهمال البهائم شقي وهلك وكان الوزر في رقبة القيم عليه والوالي له) [إحياء علوم الدين]

ترجمه: پوهه شه چې د کوچنیانو تربیه کول د خورا مهمو او ضروري کارونو څخه ده او ماشومان د خپل مور او پلار سره امانت دي؛ د ماشوم پاك زړه ډیر سپیڅلی او ساده جوهر دی، د هر ډول نقش او انځور څخه خالي وي او د هر ډول نقش لپاره چمتو وي او هرې خوا ته یې چې څوك ګرځوي او اړوي، میلان کوي او ګرځي، که چیرې په نیکیو عادت کړای شو او نیکي ورته وښودل شوه، په نیکۍ لوئیږي او په دنیا او آخرت کې به نیکبخته وي او په دې نیکبختۍ کې به مور او پلار، هر معلم او هر ادب ورکوونیکی ورسره شریك وي او که چیرې په شر باندې عادت کړای شو او یا دڅارویو په څیر ورته هیڅ ډول توجه ونه شوه، بد بخته به شي او هلاك به شي او ګناه به یې د سرپرست په غاړه وي.

د مور او پلار دیني وجیبه ده چې د اولاد دیني تربیه، اخلاقي تربیه، عقلي او روحي تربیه او جسمي تربیه او روزنه وکړي.

د اسلام په مبارك دین کې د اولاد تربیه د هغه په غوږ کې د آذان له وخته شروع کیږي او هر مور او پلار وظیفه لري چې خپل بچي ته له وړوکتوب څخه دیني روزنه ورکړي او هغه آداب او اخلاق ورته ور وښایي چې له امله د ماشوم په زړه او دماغ کې د الله تعالی او دهغه دمحبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم مینه او محبت ځای ونیسي او کله چې د ماشوم په زړه کې دالله تعالی او دهغه د پیغمبر محبت پریوزي بیا په دین او دنیاکې ټول کارونه ورته اسانیږي او په اجتماع کې خیرخواه انسان جوړیږي.

په قرآن کریم کې او نبوي احادیثو کې د اولاد دتربیې په برخه کې بې شمیره دلائل موجود دي.

څومره چې اسلام داولاد روزنې ته اهمیت ورکړی دی، بل هیڅ دین هغومره اهمیت نه دی ورکړی.

درسول الله صلی الله علیه وسلم بې شمیره لارښوونې د اولاد او ماشومانو دپالنې لپاره بیلګې وی.

**د اولاد روزنه په قرآن کریم کې:**

الله جل جلاله پیغمبران اوهغه نیکان بندګان چې همیشه یې د خپل اولاد په روزنه کې هلې ځلې کړې دي ستایلي دي، د بیلګې په توګه کله چې اسماعیل علیه السلام ته و ګورو، نو ده خپلې کورنۍ او اولادونو ته د لمانځه اداء کولو او زکات ورکولو امر کاوه او په خپله هم د الله تعالی یو خوښ بنده ؤ او ابراهیم خلیل الله هم خپل زوی ته د الله په حکمونو د استقامت او ثبات امر کاوه او لقمان حکیم خپل زوی له شرك څخه منع کاوه او نصیحت یې ورته کاوه چې د مور او پلار حق باید اداء کړي او الله تعالی په پټه او ښکاره د خپلو عملونو څارونکی وګڼي او په لمانځه او د دین په امر ثابت و اوسي، د الله په بندګانو ځان لوی ونه ګڼې او د دوی حقونه په نظر کې وساتي، چې دا ټول هغه اصول دي چې باید اولاد پرې وروزل شي

او که څوك په دې اصولو عمل وکړي په حقیقت کې یې د الله له عذاب څخه خلاص کړ او د الله د نعمت څخه برخمن شو او څوك چې له دې اصولو تجاوز وکړي تر پوښتنې لاندې راځي او څوك چې د ماشومتوب په وخت کې د خپلو اولادونو په روزنه کی غفلت او بی پروایي وکړي، نو ده خپل ځان په بوډاتوب کې د خپل او لاد له خدمت او نیکۍ څخه محروم کړ او داسې او لاد نه د ده په درد خوري نه د کورنۍ.

الله جل جلاله د اولاد د روزنې او تربیت په اړه داسې حکم کړی دی: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ} التحريم :(۶ )

ترجمه: ای مؤمنانو! خپل ځانونه او خپله کورنۍ( ښځه او اولادونه) له هغه اورنه وژغورئ چې د هغه د سون توکي به انسانان او تيږي وي چې پرهغه به غوسه ناکې سخت زړه والا پرښتې مؤظفی وي چې هيڅکله به د الله له حکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کيږي هغه په ځای راوړي .

**وروي أن عمر قال حين نزلت :** يارسول الله نقي أنفسنا فكيف لنا بأهلينا؟ فقال عليه الصلاة والسلام : تنهوهن عما نهاكم الله عنه وتأمروهن بما أمركم الله به فيكون ذلك وقاية بينهن وبين النار». روح المعانی

ترجمه: کله چې دا آيت نازل شو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل ای رسول الله! مونږ به ځانونه له اور څخه وساتو خو کورنۍ او اولادونه څنګه وساتو؟

پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: هغوی د هغه څه نه وساتئ چې تاسو ور څخه الله تعالی منع کړي ياست او هغوی ته په هغه څه امر وکړئ چې تاسو ته پرې الله تعالی امر کړی دی، په دې کار سره دوی له اور څخه ژغورل کيږي.

الله تعالی دحضرت لقمان عليه السلام د خپل زوی د روزنې اصول داسې بيانوي :{وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لاَ تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ، وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ، وَإِن جَاهَدَاكَ عَلى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ، يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الأَرض يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ، يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلاَةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُورِ، وَلاَ تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلاَ تَمْشِ فِي الأَرض مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ، وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ إِنَّ أَنكَرَ الأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ} لقمان :( ١٣ – ١٩ )

ترجمه: او کله چې وويل لقمان عليه السلام خپل زوی ته او هغه ته يې پند ورکاوه هغه ته يې وويل ای زما زويه! مه نيسه شريك ته د الله سره، بيشکه شرك خورا لوی ظلم دی او امر کړی مونږ انسان ته د هغه د مور او پلار په اړه، ځکه مور يې د کمزورۍ له پاسه په کمزورۍ کې له ځان سره بار کړی ؤ او له تي نه د هغه جلا کول دي په دوه کلونو کې، نو ځکه مونږ ورته امر کړی دی چې زما شکر وکړه او د مور او پلار شکر پر ځای کړه، همدا ما ته ستاسو راګرځيدل دي او که هغوی کوښښ وکړي چې له ما سره هغه څه شريك کړې چې ستا په پوهه کې نه راځي، نو خبره يې مه منه او په دنيوي ژوند کې ورسره ښه غوره ملتيا وکړه او د هغه چا په لاره ولاړ شه چې ما ته يې رجوع کړې ده، ستاسو ټولو راتګ ماته دی، نو زه به مو هغه کړنې په مخ کې کيږدم چې تاسې کولې. اې زما زويه! که د اورې دانې په اندازه کوچنی عمل د ډيرې لويې ډبرې په منځ يا د اسمانونو او يا د ځمکې په کوم لرې کنج کې وي، الله به هغه راو باسي. بې له شکه چې الله پاك ډير ښه ليدونکی او له هرڅه ښه خبر دی. ای زما زويه! لمونځ اداء کړه او امر وکړه په نيکۍ او منع وکړه له بدۍ او صبر وکړه پر هغه څه چې رسيدلي دي تا ته، بيشکه دا له مهموکارونو څخه دی او له خلکو څخه مخ مه اړوه او مه ځه ته په زمکه کې په خيال او کبر سره، بيشکه الله نه خوښوي هر تکبر کوونکی فخر کوونکی او په خپل تګ کې مينځنی حال غوره کړه او ټيټ کړه له غږ ستا ، بيشکه ډير بد له غږونو خامخا غږ د خرو دی .

الله تعالی د اسماعيل عليه السلام د اولاد د روزنې بيلګې مونږ ته بيانوي او دهغه صفت کوي: {وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلاَةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عَندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا} مريم: (٥٥)

ترجمه: اسماعيل عليه السلام به خپلې کورنۍ(ښځه او اولاد) ته په لمانځه باندې امر کولو او په زکات به يې ورته امر کولو او دخپل رب په نزد ډير خوښ بنده ؤ.

**د اولاد روزنه په نبوي احاديثو کې:**

په نبوي احاديثو کې د اولاد په روزنه زيات تاکيد شوی دی او خپله رسول الله صلی الله عليه وسلم د انسانيت لومړنۍ مربي او روزونکی ؤ او ددې امت د غوره خلکو صحابه کرامو ته يې هر ډول رزونه ورکړې وه او د روزنې هغه معيارونه يې مونږ ته را معرفي کړي دي چې د بشريت په ټول تاريخ کې ساری نه لري.

پيغمبر عليه السلام د روزنې او تربيت مثالي شخصيت ؤ.

وعن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: « مُرُوا أولاَدَکُم وَ هُم أبنَاءُ سَبعِ سِنِينَ، وَاضرِبُوهُم عليهَا وَهُم أبنَاءُ عَشرٍ، وَفَرِّقُوا بَينَهُم فِي المَضَاجِعِ » رواه ابوداود

ترجمه: **له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :** خپلو اولادونو ته مو په لمانځه امر وکړئ په داسې حال کې چې دوی اوه کلن وي او د لمانځه په پرېښولو دوی ووهئ په داسې حال کې چې دوی لس کلن وي او د خوب ځای يې هم ور بېل کړئ .

په يو بل حديث شر يف کې رازي: وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :
«ياغُلاَمُ إنِّي أُعَلِّمُکَ کَلِمَاتٍ : احفَظِ اللهَ يحفَظکَ، احفَظِ اللهَ تَجِدهُ تُجَاهَکَ، إذَا سَألتَ فَاسألِ اللهَ، وَإذَا استَعَنتَ فَاستَعِن بِاللهِ . وَاعلَم أنَّ الأمَّةَ لَواجتَمَعَت على أن ينفَعُوکَ بِشَيئٍ لَم ينفَعُوکَ إلاَّ بِشَيءٍ قَد کَتَبَهُ اللهُ لَکَ، وَ لَواجتَمَعُوا على أن يضُرُّوکَ بِشَيءٍ لَم يضُروکَ إلاَّ بِشَيءٍ قَد کَتَبَهُ اللهُ عَلَيکَ، رُفِعَتِ الأقلاَمُ، وَجَفَّتِ الصُّحفُ» رواه الترمذي

ترجمه: **له ابن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت دی وايي: : يوه ورځ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم شا ته** په سپرلۍ سپور وم او ده راته وفرمايل : ای بچيه ! د څو خبرو ښودنه درته کوم ( هغه ياد ولره ): الله تعالی د خپل ځان ساتونکی وګڼه ، ترڅو تا وساتي، الله يادوه، کله چې د ستونزې سره مخ شې ، نو الله به د خپل ځان په وړاندې ومومې، کله چې څه غواړې د الله نه يې غواړه او کله چې د مرستې ضرورت ؤ د الله نه يې غواړه او پوه شه که چېرې ټول امت راجمع شي ، ترڅو تا ته څه ګټه ورسوي ګټه نشي درته رسولی مګرهغه څه چې الله په ( ازل ) کې درته ليکلي او مقدر کړي دي او که ټول امت را جمع شي چې تا ته څه ضرر او تاوان ورسوي تا ته ضرر او تاوان نشي رسولی؛ مګر هغه چې الله تا ته په ازل کې ليکلي او مقدر کړي دي، قلمونه پورته شوي او صحيفې وچې شوې دي ( يعنی څه چې مقدر دي هغه په لوح محفوظ کې ثبت او ليکلي دي).

په يو حديث شريف کې د اولاد د روزنې د اهميت په اړه داسې رازي: وعن أنس رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : « إنَّ اللهَ سَائِلٌ کُلَّ رَاعٍ عَمَّا استَرعَاهُ أحَفِظَ أم ضَيعَ» . سنن النسائي

**ترجمه: له انس رضي الله عنه ځخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :** يقينا الله تعالی د هر پالونکي او سرپرست څخه د خپلو ترلاس لاندې خلکو په هکله پوښتنه کوي چې آيا امانت يې ساتلی او که يې ضايع کړی دی .

په يو بل حديث کې راغلي دي:(عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ) سنن الترمذي

ترجمه: د حضرت جابربن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی: داچې سړی خپل بچي ته ادب ور وښايي ددې څخه غوره دی چې يوه پيمانه خيرات ورکړي.

**د اولاد روزنه دصحابه کرامو ، تابعينو او صالحينو په سيرت کې:**

وقَالَ عُثْمَانُ الْحَاطِبِيُّ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ لِرَجُلٍ: (أَدِّبِ ابْنَكَ، فَإِنَّكَ مَسْئُولٌ عَنْ وَلَدِكَ، مَاذَا أَدَّبْتَهُ ؟ وَمَاذَا عَلَّمْتَهُ، وَإِنَّهُ مَسْئُولٌ عَنْ بِرِّكَ وَطَوَاعِيَتِهِ لَكَ) شعب الايمان للبيهقی

ترجمه: حضرت عثمان حاطبي وايي چې ما دعبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چې يو کس ته يې داسې وويل: خپل زوی ته ادب ور وښايه؛ بيشکه له تا څخه به دخپل بچي د روزنې په باره کې پوښتنه کيږي چې څه ډول روزنه دې ورکړی ده؟ او څه دې ورته زده کړي دي؟ او ستا دزوی څخه به ستا سره دنيکۍ او ستاد اطاعت په اړه پوښتنه کيږي.

قال ابن مسعود ـ رضي الله عنه ـ: **(حَافِظُوا عَلَى أَبْنَائِكُمْ فِي الصَّلاَةِ ثُمَّ تَعَوَّدُوا الْخَيْرَ فَإِنَّمَا الْخَيْرُ بِالْعَادَةِ)** السنن الكبرى

ترجمه: عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: د لمانځه په باره کې د خپلو بچو نظارت وکړئ بيا يې په نيکيو باندې عادت کړئ؛ بيشکه نيکي په غوره عادت کې ده.

و (كان عروة يأمر بنيه بالصيام إذا أطاقوه وبالصلاة إذا عقلوا) مصنف ابن أبي شيبة

ترجمه: عروه ابن زبير رضي الله عنه به خپلو بچوته د روژو امر کولو چې قدرت به يې درلودلو او چې کله به د تمييز مرحلې ته ورسيدل په لمونځ به يې ورته امر کولو.

وَقَالَ مُجَاهِد " قُوا أَنْفُسكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا " قَالَ اِتَّقُوا اللَّه وَأَوْصُوا أَهْلِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّه.

وَقَالَ قَتَادَة تَأْمُرهُمْ بِطَاعَةِ اللَّه وَتَنْهَاهُمْ عَنْ مَعْصِيَة اللَّه وَأَنْ تَقُوم عَلَيْهِمْ بِأَمْرِ اللَّه وَتَأْمُرهُمْ بِهِ وَتُسَاعِدهُمْ عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْت لِلَّهِ مَعْصِيَة قَذَعْتهمْ عَنْهَا وَزَجَرْتهمْ عَنْهَا وَهَكَذَا قَالَ الضَّحَّاك وَمُقَاتِل حَقّ الْمُسْلِم أَنْ يُعَلِّم أَهْله مِنْ قَرَابَته وَإِمَائِهِ وَعَبِيده مَا فَرَضَ اللَّه عَلَيْهِمْ وَمَا نَهَاهُمْ اللَّه عَنْهُ . تفسير ابن كثير

ترجمه: امام مجاهد ددې آيت شريف (قُوا أَنْفُسكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا) په تفسير کې وايي: دالله تعالی څخه ووېرېږئ او خپلې کورنۍ (ښځه او اولاد) ته په تقوا باندې وصيت وکړئ.

امام قتاده فرمايي: خپلې کورنۍ ته دالله تعالی داطاعت امر وکړئ او دالله تعالی دمعصيت څخه يې منع کړئ او په دوی باندې دالله تعالی سره سم ولاړ اوسه او دالله تعالی لپاره ورته امر وکړه او دالله تعالی په کارونو کې ورسره مرسته وکړه کله چې ته په دوی کې دالله تعالی نافرماني ووينې له هغې څخه منع کړه.

امام ضحاك او مقاتل فرمايي:په مسلمان لازم ده چې خپل اولاد او خپلوانو او مرئيانو ته هغه څه وښايي چې الله تعالی ورباندې فرض کړي دي او هغه څه ور وښاياست چې له کوم څخه يې منع کړي دي.

امام غزالي رح فرمايي: کله چې پلار خپل اولاد په دنيا کې د اور څخه ساتي، په کارده چې د آخرت د اور او جهنم څخه يې هم وساتي او دآخرت د اور څخه ساتل داسې کيږي چې نيك آداب ورته وشايي او غوره اخلاق ورته زده کړي او دبدو ملګرو دملګرتيا څخه يې وساتي[احياء علوم الدين]

**د تربيت او روزنې ځينې بيلګې:**

کوښښ وکړو چې خپل اولادونه په لاندې خبرو ورروز:

۱-په وړوکتوب کې ورته دتوحيد کلمه، دشهادت کلمه ، بسم الله الرحمن، اعوذبالله من الشيطان الرجيم او نورې کلمې زده کړو.

۲-خپل ماشوم ته د خوړو په وخت د بسم الله ويل او دخوړو څخه وروسته د الحمدلله ويل زده کړو او همدا راز مسجد ته دننوتلو او له مسجد څخه د وتلو دعاء ور زده کړو.

۳-تشناب او دقضای حاجت دعاء هم ور زده کړو.

۴-کوښښ وکړو چې خپل ماشوم ته په خبرو کې ديني او شرعي اصطلاحات ورزده کړو لکه:( الحمدالله، ماشاء الله، ان شاءالله ، جل جلاله ، صلی الله عليه وسلم).

۵-خپل ماشومان له ځانه مسجد ته بوتلل؛ ترڅو دمسجد سره يې مينه او علاقه پيداشي.

۶-خپلو ماشومانو ته دهغوی دعمر په تناسب قرآن کریم زده کول او دمسجد حلقو کې شاملول او باید کوښښ وکړو چې ماشوم باندې دقرآن کریم ځیني سورتونه زده کړو او تشویق یي کړو.
۷-همدا راز کوښښ وکړو چې په خپلو اطفالو باندې ځینې جامع احادیث زده کړو او که ممکن وي د الاربعین للنووي کتاب احادیث وربانديې زده کړو.
همداراز د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سیرت او دصحابه سیرت ورته زده کړو؛ ترڅو داسلام په لار کې دهغوی دشجاعت، دلاورۍ، قربانۍ او سخاوت څخه خبرشي او ددوی واقعات ورته وښایو او په ګوته کړو.
همدا راز دتابعینو، بزرګانو او صلحاؤ عبادت، ریاضت او قربانۍ وربانديې ولولو.
۸-خپل بچیان په صبر، تحمل او بردبارۍ باندې عادت کړو او له تنعم او بېځایه اسراف څخه یي وساتو؛ ځکه په تنعم کې د اولادعادت کول، هغوی د هوا او هوس تابع ګرځوي. امام غزالي رح فرمایي(ولا یعوده التنعم ولا یحبب إلیه الزینة والرفاهیة فیضیع عمره في طلبها إذا کبر فیهلك هلاك الأبد)[ الإحیاء ]
۹-د خپلو اولادونه تشویق کړو چې نیك او صالحه ملګری ولري او دفاسقانو او بد اخلاقه دملګرتیا څخه یي وساتو.
همدا راز کوښښ وکړو چې اولاد مو لوڅو فلمونو او بې هوده سریالونو له کتلو څخه وساتو او هغه وسائل په کور کې ونه ساتو چې د اولاد د ګمراهۍ او بد اخلاقۍ باعث ګرځي؛ لکه تلویزون، لوی لوی مبائلونه او داسې نور.
۱۰- خپل اولاد ته دمشرانو، علماؤ او استادانو احترام او درناوی زده کړو او په دې یي وروزو چې تل مشرانو او استادانو ته سلام واچوي او لاسونه یي ښکل کړي.

همدا راز دمجلس او خبرو آداب ورته زده کړو؛ خو بې زړه توب څخه یي وساتو.

أقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمین
آمین